---

**۱۹/ ربيع الاول/۱۴۴۷ هـ، ق موافق۲۱/سنبله /۱۴۰۴هـ، ش**

# د أصحابُ الأُخْدود واقعه او له هغې څخه عبرت اخيستل

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**نحمده حمداً كثيراً طيبًا مباركًا فيه، ونستعينه ونستهديه، ونستغفره ونتوب إليه، ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، الملك الحق المبين، ونشهد أن سيدنا ونبينا محمدًا عبده ورسوله، المبعوث رحمة للعالمين، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه والتابعين، وسلّم تسليمًا كثيراً، أما بعد:**

**قال الله سبحانه وتعالى:(وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ ۝ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ ۝ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ۝ قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ ۝ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ ۝ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ۝ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ۝ وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ۝ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ۝ إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ ۝ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ) [البروج: ۱-۱۱]**

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

**د ظلم او عدالت، د حق او باطل ، د کفر او اسلام ترمنځ مبارزه د آدم عليه السلام د پيدايش سره پيل شوې ده او د قيامت تر ورځې پورې به دا مقابله روانه وي.**

**نن سبا اسلامي امت د مظلوميت په ډېر بد حالت کې قرار لري او د هرې خوا نه په کفري او صهيونيستي ظلمونو، تيريو او دسيسو کې محاصره شوی دی او د ظلم او بربريت ټوله نړۍ ورته يوه خوله دي.**

**که چيرې د غزې حالت ته وګورو ؛ نو وينو چې مسلمانان د تاريخ تر ټولو بد حالت تيروي او د مسلمانانو په شمول ټوله نړۍ ورته په سترګو ګوري، خو د کفري مصلحتونو څخه ځوک نه تيريږي او د حق آواز نشي کولای.**

**د غزې د خلکو، ماشومانو، زنانه وو، سپين ږيرو او بې دفاع ځوانانو څه ګناه کړې ده ، چې ټوله نړۍ ورباندې راټوله شوې ده او ددې مظلوم ملت په وژلو ، د کورونو په ړنګولو او بنديانولو کې هيڅ صرفه نکوي او هغوی يې په خوراکي او غذايي محاصره کې راګير کړې دي او هره ورځ بې شميره کوچنيان او سپين ږيري د لوږې له امله وژل کيږي ؛ مګر د هغوی ګناه داده چې وايې مونږ مسلمانان يو او فلسطين مو کور دی.**

همدارنگه د افغانســتان مظلوم ملت هم له هر پلوه د کفارو په محاصره کې دی او کفري نړۍ دې ته تیاره نه ده چې افغانســتان اسلامي امارت سره خبرو کولو ته حاضر شي ، د افغانانو لویه ګناه داده چې دوی دخپل هیواد څخه اشغالګر وشړل او ورته یې ویل چې مونږ مسلمانان یو او افغانستان مو د نیکونو څخه راپاتې ټاټوبی او کور دی. خو حقیقت دادی چې  د نړۍ کفار د مسلمانانو په وړاندې ټول یو موټی دي او د مســلمانانو په هلکه  غرب دشرق له دریځه نه تیریږي او شرق د غرب له دریځه نه تیریږي، ولو که په خپلو منځونو کې اختلافات ولري.

قرآن کریم چې دالله تعالی یو معجز کتاب دی او ددنیا او د آخرت د ټولو حالاتو بیان په کې اجمالاً او تفصیلاً موجود دی.

په قرآني قصصو کې ځای ځای په معجزانه تعبیراتو د تیرو مظلومو امتونو او ظالمانو د ظلم واقعات یې مونږ ته بیان کړي دي ، ترڅو مسـلمانان د ظلمونو په مقابل کې د صـبر او اسـتقامت څخه کار واخلي څکه چې کامیابي ددوی په برخه ده او بل دا خبره را یادوي چې د هر جابر او باطل په مقابل کې کلک او مضــبوط واوسي او په هیڅ صــورت کې د جابرانو او ظالمانو جبر ، ظلم او بربریت ته تسلیم نشي.

ددغو واقعاتو په جمله کې د اصــحابُ الأُخدود واقعه ده چې الله جل جلاله په خپل کتاب کې ذکر کړې ده؛ ترڅو په کې ژور فکر وکړو او ورڅخه عبرتونه واخلو او د تیرو حق پرستو مظلومانو د قربانیو او سربښندنو لار تعقیب کړو او د هر ډول استکبار په مقابل کې کلک له صندان ودریږو  او د هغوی د دَجل څخه د ډکو جالونو کې راګیر نشو.

مونږ باید د اصــحاب الأُخدود واقعه په غور او فکر سره ولولو او په دې اړه فکر وکړو چې د اصــحاب الاخدود په لومو کې راګیرو مسلمانانو د جابر پاچا په اړه څه ډول دریځ ونیولو؟ هغوی د ظلم په مقابل کې آیا د خپل دین توحید څخه تیر شول؟ آیا هغوی د نورو خلکو د مسلمانولو لپاره کومه لاره خپله کړه د عزیمت او که د رخصت؟

الله جل جلاله فرمایلي دي.(والسَّماءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ ۝ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ ۝ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ۝ قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ ۝ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ ۝ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ۝ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُـــهُودٌ ۝ وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ۝ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّـمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَـهِيدٌ ۝ إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ ۝ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِير) [البروج: ۱-۱۱]

ترجمه:- قســم په اسـمان چې خاوند د برجونو دی او قســم دی په هغې ورځې وعدې کړی شــوې (چې د قیامت ورځ ده)په هغې ورځې چې حاضریږي (چې ورځ دجمعې ده ) او په هغې ورځې چې هغې ته ورحاضریږي (خلق چې ورځ دعرفې ده ).وژلی شــوي دي خاوندان د کندې د خندقونو د اور (په ځمکه کې) چې خاوند د بلېدلو وه (په ګوکړو او په ډېرو لرګیو او په ســړیو سره). کله چې دوی (په غاړو) د اور ناست وو او دوی په هغه چې کول به یې په مؤمنانو باندې حاضر وو (او پخپلو سترګو یې کتلې) او عیب یې نه لیده له هغو (مسلمانانو) څخه مګر دا چې ایمان لرونکي وو په الله ډېر غالب قوي ډېر ستایلي شوي باندې هغه (الله) چې خاص ده لره ده باچایي کامل سلطنت د اسمانونو او د ځمکې (سره له اسمانونو او ځمکې ملکًا خلقاً و عبیدًا) او الله په هر شي باندې شاهد دی. بېشکه هغه کسان چې په فتنه کې یې غورځولي وي ضرر یې ر سولی وي ایمان لرونکیو سړیو ته او ایمان لرونکیو ښځو ته بیا یې توبه نه وي ایســتلې (او نه وي ګرځېدلي له کفره) نو دوی ته دی (په آخرت کې) عذاب د دوزخ او دی دوی ته عذاب د اور سوځوونکي. بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) شته دوی ته جنتونه چې بهیږي له لاندې د (ونو او ماڼیو د) هغو (څلور قسمه) ویالې دا نجات دی مراد موندل لوی.

د أصحابُ الأُخدود واقعې په اړه امام مسلم په صحيح مسلم کې دا واقعه داسې ذکر کړې ده:( عَنْ صُهَيْبٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « كَانَ مَلِكٌ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ وَكَانَ لَهُ سَاحِرٌ فَلَمَّا كَبِرَ قَالَ لِلْمَلِكِ إِنِّى قَدْ كَبِرْتُ فَابْعَثْ إِلَىَّ غُلاَمًا أُعَلِّمْهُ السِّحْرَ. فَبَعَثَ إِلَيْهِ غُلاَمًا يُعَلِّمُهُ فَكَانَ فِي طَرِيقِهِ إِذَا سَلَكَ رَاهِبٌ فَقَعَدَ إِلَيْهِ وَسَمِعَ كَلاَمَهُ فَأَعْجَبَهُ فَكَانَ إِذَا أَتَى السَّاحِرَ مَرَّ بِالرَّاهِبِ وَقَعَدَ إِلَيْهِ فَإِذَا أَتَى السَّاحِرَ ضَرَبَهُ فَشَكَا ذَلِكَ إِلَى الرَّاهِبِ فَقَالَ إِذَا خَشِيتَ السَّاحِرَ فَقُلْ حَبَسَنِى أَهْلِى، وَإِذَا خَشِيتَ أَهْلَكَ فَقُلْ حَبَسَنِى السَّاحِرُ. فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أَتَى عَلَى دَابَّةٍ عَظِيمَةٍ قَدْ حَبَسَتِ النَّاسَ فَقَالَ الْيَوْمَ أَعْلَمُ آلسَّاحِرُ أَفْضَلُ أَمِ الرَّاهِبُ أَفْضَلُ فَأَخَذَ حَجَرًا فَقَالَ اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ أَمْرُ الرَّاهِبِ أَحَبَّ إِلَيْكَ مِنْ أَمْرِ السَّاحِرِ فَاقْتُلْ هَذِهِ الدَّابَّةَ حَتَّى يَمْضِىَ النَّاسُ. فَرَمَاهَا فَقَتَلَهَا وَمَضَى النَّاسُ فَأَتَى الرَّاهِبَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ لَهُ الرَّاهِبُ أَىْ بُنَىَّ أَنْتَ الْيَوْمَ أَفْضَلُ مِنِّى. قَدْ بَلَغَ مِنْ أَمْرِكَ مَا أَرَى وَإِنَّكَ سَتُبْتَلَى فَإِنِ ابْتُلِيتَ فَلاَ تَدُلَّ عَلَىَّ . وَكَانَ الْغُلاَمُ يُبْرِئُ الأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ وَيُدَاوِى النَّاسَ مِنْ سَائِرِ الأَدْوَاءِ فَسَمِعَ جَلِيسٌ لِلْمَلِكِ كَانَ قَدْ عَمِىَ فَأَتَاهُ بِهَدَايَا كَثِيرَةٍ فَقَالَ مَا هَا هُنَا لَكَ أَجْمَعُ إِنْ أَنْتَ شَفَيْتَنِى فَقَالَ إِنِّى لاَ أَشْفِى أَحَدًا إِنَّمَا يَشْفِى اللَّهُ فَإِنْ أَنْتَ آمَنْتَ بِاللَّهِ دَعَوْتُ اللَّهَ فَشَفَاكَ. فَآمَنَ بِاللَّهِ فَشَفَاهُ اللَّهُ فَأَتَى الْمَلِكَ فَجَلَسَ إِلَيْهِ كَمَا كَانَ يَجْلِسُ فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ مَنْ رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ قَالَ رَبِّى. قَالَ وَلَكَ رَبٌّ غَيْرِى قَالَ رَبِّى وَرَبُّكَ اللَّهُ. فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ حَتَّى دَلَّ عَلَى الْغُلاَمِ فَجِىءَ بِالْغُلاَمِ فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ أَىْ بُنَىَّ قَدْ بَلَغَ مِنْ سِحْرِكَ مَا تُبْرِئُ الأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ وَتَفْعَلُ وَتَفْعَلُ . فَقَالَ إِنِّى لاَ أَشْفِى أَحَدًا إِنَّمَا يَشْفِى اللَّهُ. فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ حَتَّى دَلَّ عَلَى الرَّاهِبِ فَجِىءَ بِالرَّاهِبِ فَقِيلَ لَهُ ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ فَأَبَى فَدَعَا بِالْمِئْشَارِ فَوَضَعَ الْمِئْشَارَ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ فَشَقَّهُ حَتَّى وَقَعَ شِقَّاهُ ثُمَّ جِىءَ بِجَلِيسِ الْمَلِكِ فَقِيلَ لَهُ ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ. فَأَبَى فَوَضَعَ الْمِئْشَارَ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ فَشَقَّهُ بِهِ حَتَّى وَقَعَ شِقَّاهُ ثُمَّ جِىءَ بِالْغُلاَمِ فَقِيلَ لَهُ ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ. فَأَبَى فَدَفَعَهُ إِلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ اذْهَبُوا بِهِ إِلَى جَبَلِ كَذَا وَكَذَا فَاصْعَدُوا بِهِ الْجَبَلَ فَإِذَا بَلَغْتُمْ ذُرْوَتَهُ فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِينِهِ وَإِلاَّ فَاطْرَحُوهُ فَذَهَبُوا بِهِ فَصَعِدُوا بِهِ الْجَبَلَ فَقَالَ اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ. فَرَجَفَ بِهِمُ الْجَبَلُ فَسَقَطُوا وَجَاءَ يَمْشِى إِلَى الْمَلِكِ فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ مَا فَعَلَ أَصْحَابُكَ قَالَ كَفَانِيهِمُ اللَّهُ. فَدَفَعَهُ إِلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ اذْهَبُوا بِهِ فَاحْمِلُوهُ فِي قُرْقُورٍ فَتَوَسَّطُوا بِهِ الْبَحْرَ فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِينِهِ وَإِلاَّ فَاقْذِفُوهُ. فَذَهَبُوا بِهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ،فَانْكَفَأَتْ بِهِمُ السَّفِينَةُ فَغَرِقُوا وَجَاءَ يَمْشِى إِلَى الْمَلِكِ فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ مَا فَعَلَ أَصْحَابُكَ قَالَ كَفَانِيهِمُ اللَّهُ، فَقَالَ لِلْمَلِكِ إِنَّكَ لَسْتَ بِقَاتِلِى حَتَّى تَفْعَلَ مَا آمُرُكَ بِهِ. قَالَ وَمَا هُوَ قَالَ تَجْمَعُ النَّاسَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ وَتَصْلُبُنِى عَلَى جِذْعٍ ثُمَّ خُذْ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِى ثُمَّ ضَعِ السَّهْمَ فِي كَبِدِ الْقَوْسِ ثُمَّ قُلْ بِاسْمِ اللَّهِ رَبِّ الْغُلاَمِ، ثُمَّ ارْمِنِى فَإِنَّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذَلِكَ قَتَلْتَنِى. فَجَمَعَ النَّاسَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ وَصَلَبَهُ عَلَى جِذْعٍ ثُمَّ أَخَذَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ ثُمَّ وَضَعَ السَّهْمَ فِي كَبِدِ الْقَوْسِ ثُمَّ قَالَ بِاسْمِ اللَّهِ رَبِّ الْغُلاَمِ. ثُمَّ رَمَاهُ فَوَقَعَ السَّهْمُ فِي صُدْغِهِ فَوَضَعَ يَدَهُ فِي صُدْغِهِ فِي مَوْضِعِ السَّهْمِ فَمَاتَ فَقَالَ النَّاسُ آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلاَمِ آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلاَمِ آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلاَمِ،فَأُتِىَ الْمَلِكُ فَقِيلَ لَهُ أَرَأَيْتَ مَا كُنْتَ تَحْذَرُ قَدْ وَاللَّهِ نَزَلَ بِكَ حَذَرُكَ قَدْ آمَنَ النَّاسُ. فَأَمَرَ بِالأُخْدُودِ فِي أَفْوَاهِ السِّكَكِ فَخُدَّتْ وَأَضْرَمَ النِّيرَانَ وَقَالَ مَنْ لَمْ يَرْجِعْ عَنْ دِينِهِ فَأَحْمُوهُ فِيهَا. أَوْ قِيلَ لَهُ اقْتَحِمْ. فَفَعَلُوا حَتَّى جَاءَتِ امْرَأَةٌ وَمَعَهَا صَبِىٌّ لَهَا فَتَقَاعَسَتْ أَنْ تَقَعَ فِيهَا فَقَالَ لَهَا الْغُلاَمُ يَا أُمَّهِ اصْبِرِى فَإِنَّكِ عَلَى الْحَقِّ ». صحيح مسلم (٨ /٢٢٩)، النووي شرح صحيح مسلم(٢٦ /٤٥١)

ژباړه:- د حضرت صهيب رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې بيشکه رسول الله عليه وسلم وفرمايل: يو پاچا ؤ ستاسې نه په مخکې امتونو کې او د هغه يو ساحر ؤ (امام نووي رحمه الله وايې چې ددې پاچا وخت د عيسى عليه السلام او نبی عليه السلام ترمنځ چې کومه زمانه وه په دغه وخت کې ؤ او مفسرين وايې چې نوم يې ذو نواس ؤ او په نجران کې د حِميَر قبيلې پاچا ؤ)، کله چې ساحر سپين ږيرى شو او بوډا شو( او په ځان د مرگ وويريدلو) ، نو پاچا ته يې وويل: زه بوډا شوم ؛ ماته يو ځوان هلك راوليږه چې زه ورته سحر ور وښايم. نو هغه پاچا ورته يو ځوان هلک ور وليږه چې سحر ورته زده کړي. (په ځينو رواياتو کې راځي چې د هغه ځوان هلک نوم عبد الله بن ثامر ؤ) نو په لاره د هلک کې کله به چې ساحر ته تللو يو راهب موجود ؤ (راهب د نصاراوو عبادت کوونکی شخص چې د توحيد عقيده يې لرله)، نو هلک دغه راهب ته کيناستلو او د هغه خبرې يې واوريدلې او د راهب خبرو په

تعجب کې واچولو(په یو بل روایت کې راځي چې دغه هلک د راهب دین چې توحید ؤ غوره کړ)، نو کله به چې دغه هلک ساحر ته تللو په راهب به تیریدلو ـــ یعنې د راهب د اوسیدوځای په لاره کې ؤــ او راهب ته به کیناستلو، کله به چې ساحر ته ورغی هغه به ووهلو، نو دغه هلک د ساحر د وهلو شکایت راهب ته وکړ، راهب ورته وویل:
کله چې د ساحر څخه ویریدلی نو ورته وایه چې زه کور بند پاتې کړم -یعنې د کور په کارونو کې بند شوم او ناوخته شو - او کله چې د کور له خلکو ویریدلې چې درته به په قهر شي ورته وایه چې زه ساحر بند پاتې کړی وم . یعنې له ساحر سره معطل شوم - نو ده دغه حالت ته دوام ورکړ چې یوځل په یو لوی حیوان ور پیښ شــو چې خلک یې له تګ راتګ څخه بند کړي ؤ ، نو هلک وویل( به زړه کې) نن ورځ به زه پوهه شم چې ساحر غوره دی او که راهب غوره دی؟
نو یوه تیږه یې راواخیستــه او داسـې یې وویل: ای الله ! که چیرې د راهب کار تاته د ســاحر له کار څخه غوره وي ، نو ووژنه دغه حیوان (په دې تیږه) ترڅو د خلکو لار خلاصــه شي. نو هغه حیوان یې په هغه تیږه وویشــتلو او ویې وژلو او خلک روان شــول، نو راهب ته ورغلو او هغه ته یې واقعه بیان کړه ، نو راهب ورته وویل: ای بچیه ! ته نن ورځ زما څخه بهتره یې ، ســتا کار دومره مخکې تللی دی چې زه یې وینم (یعنې ایمان او عقیده دې زیاته قوي شــوی ده او دا کاته ښــه ښکاري) او ته به په ازمیښــت کې لویږې ، خو کله چې په ازمیښت کې ولویدې ما چاته مه ښایه. او دغه هلک به جوړولو له موره پیدایښي ړوند او د برص مرض والا او معالجه کول به یې د خلکو هر ډول مرضــونه. نو واوریدلو یو کس چې له پاچا سره به ناســت ؤ ددغه هلک د علاج خبره او هغه کس په ســترګو ړوند ؤ، نو دغه هلک ته یې ډیرې تحفې راوړلې او ورته یې وویل دلته چې څومره شــیان دي دا ټول ســتا دي که چیرې زما علاج دې وکړ او زه دې روغ کړم. هغه هلک ورته وویل: زه شــفاء ورکوونکی نه یم ، شــفاء بیشــکه الله تعالی ورکوي که چیرې تا په الله ایمان راوړ زه به د الله تعالی څخه ستا شفاء وغواړم او ته به روغ شــې.هغه کس په الله تعالی ایمان راوړلو او الله تعالی ورته شفاء ورکړه، هغه شخص پاچا ته ورغی او هغه ته کیناست لکه څرنګه به چې مخکې کیناستلو ، پاچا ورته وویل: چادرته د ســترګو لید راواپس کړ؟ هغه شــخص ورته وویل: زما رب ماته زما د ســترګو لید راواپس کړلو. هغه پاچا ورته وویل: آیا زما څخه ستابل رب شته ؟
هغه شــخص ورته وویل: زما رب او ســتا رب الله (تعالی) دی. نو هغه پاچا هغه کس راونیولو او تر هغې پورې یې په عذابولو ترڅو چې هغه کس ورته هغه هلک ورو ښودلو، نو هغه هلک راو ستل شو ، پاچا هغه هلک ته وویل: ای بچیه! په خپل سحر سره دومره مرتبې ته ورســیدې چې د مور څخه پیدایښي‌ــ ړوند رغوې او د برص مرض والا رغوې او دا کار کوې او دا کار کوې؟ نو هغه هلک ورته وویل: زه هیچا ته شفاء نه ورکوم ، بیشکه شفاء الله (تعالی) ورکوي، نو هغه هلک یې راونیولو او ترهغې پورې تعذیبولو ترڅو چې هغه هلک ورته هغه راهب ورو‌ښــودلو، نو هغه راهب راوســتل شــو او ورته وویل شــو چې د خپل دین څخه (چې توحید دې) وګرځه. هغه راهب ددین څخه د ګرځیدلو څخه انکار وکړ، نو اره یې راوغو ښتله او اره یې کیښودله د سر په منځ باندې او دوه ځای کړلو او دواړه حصې یې په ځمکه راولویدې، بیا د پاچا سره کیناستونکی شخص راوستل شو او ورته وویل شو چې د خپل دین څخه وګرځه ، نو هغه ددې کار څخه انکار وکړ، نو کیښــودله اره د هغه د سر په منځ باندې او هغه یې دوه ځای کړ او د هغه کس د بدن دواړه حصــې په ځمکه راپریوتلې، بیا هغه هلک راوســتل شــو او ورته وویل شــو چې له خپل دین څخه وګرځه. هغه هلک ددې کار څخه انکار وکړ، نو هغه یې خپلو ملګرو یو څو کســانو ته ورکړ او ورته یې وویل: دا بوځئ فلانې غر ته او غر ته یې وخیژوئ او کله چې د غر څوکې ته ورســیدلې که چیرې د خپل دین څخه وګرځیدلو، خو ښــه ده او که ونه ګرځیدلو ، نو له غر څخه را واچوئ. نو هغوی دغه هلک بوتللو هغه غر ته او د غر څوکې ته یې وخیژولو ؛ نو هغه هلک داسې دعاء وغوښتله ای الله ! زما لپاره ددوی څخه کافي شه په هرڅه چې ستا خوښه شي، نو په دوی باندې غر ولړزیدلو ډیر سخت او دوی له غر څخه راولویدل (او هلاک شول)،

هغه هلک راغی او پاچا ته راورسـیدلو، پاچا ورته وویل: سـتا ملگرو څه وکړل، هغه هلک ورته وویل : زه ورڅخه الله تعالی خلاص کړم. پاچا بیا نورو کسانو ته وویل: دا هلک په کشتۍ کې د بحر منځ ته یو سئ، که له دینه واو ښت ښه، که نه نو په بحر کې یې غرق کړئ. هغوی هغه په کښـتۍ کې بوتللو. هغه هلک دعا وکړه: «ای الله! د هغوی نه ما خلاص کړه په هر څه چې تا خوښــه وي.» کښـتۍ په هغوی چپه شـوه، هغوی ټول ډوب شـول او هلک په خپله د پاچا مخې ته راغی. پاچا وپوښـتل: ملگرې دې څه شول؟ هغه وویل: الله ورڅخه زه خلاص کړم.

هلک پاچا ته وویل: ته ما نشـئ وژلای ترهغې پورې چې زه درته څه وایم هغه کار وکړې (ته به بیا وکړای شي چې ما ووژنې) پاچا وویل هغه کوم کار دی؟ هغه هلک ورته وویل: ته به ټول خلک په یو میدان کې راټول کړې او ما به د ونې په سـتې پورې وتړې او بیا به یو غشی راواخلې زما له چانتې څخه بیا به غشی د لیندۍ په منځ کې کیږدې بیا به ووایې (بسم الله رب الغلام) په نامه دالله چې ددې هلک رب دی ، بیا به ور باندې ما وولې ، کله چې دې دا کار وکړ ، نو ما به ووژنې. پاچا خلک را ټول کړل په یو میدان کې او هغه هلک یې د ونې په ستې پورې وتړلو بیایې یو غشـی د هغه له چانتې څخه راوویستلو او بیا یې غشـی د لیندۍ په منځ کې کیښـودلو او بیا یې وویل: بِاسْمِ اللَّهِ رَبِّ الْغُلَامِ په نامه د الله چې د دې هلک رب دی بیا یې ور باندې هلک وویشتلو ؛ نو غشـی د هلک په څنګ ( شقیقه) باندې ولګېد، هلک لاس په سر کېښود هغه د غشي پرځای او هلته شهید شو.خلکو چیغې کړې: «موږ د هلک پر رب ایمان راوړ! موږ د هلک پر رب ایمان راوړ! موږ د هلک پر رب ایمان راوړ!» پاچا ته وویل شــول: هغه څه چې تا ترې ویره لرله، هغه درباندې وشــول، خلک ټول په ایمان مشرف شــول،نو پاچا امر وکړ چې د ښـار د کوڅو په مخ کې دې لوی کنده وکیندل شي، اور دې پکې بل کړل شي،د کوڅو په مخ کې لویې لویې کنده وکیندل شوی او له اور څخه ډکې شـوې بیا پاچا وویل: هر څوک چې له خپل دین څخه نه گرځیدلو په هغه کنده کې یې واچوئ. دپاچا خلکو هم هغسـې وکړل او چاچې ایمان راوړی ؤ هغوی یې په کې واچول تردې پورې چې یو زنانه راغله او د هغه ما شوم د وجې نه چې ورسره په غیږ کې ؤ په اور کې د اچولو څخه ورو سته شوه ، هغه ما شوم خپلې مور ته وویل:«ای مورې! صبر وکړه، ته پر حقه یې.» په ځینو روایاتو کې راځي چې هغه ښځې هم ځان د اور کندې ته وغورځاوه.

امام ترمذي په روایت کې راځي چې هغه هلک دفن کړل شو، ویل کیږي چې هغه هلک د حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه د خلافت په دوران کې راوویستل شـو او خپل لاس یې هغسـې په څنګ باندې ایښـی ؤ لکه په کوم وخت کې چې وژل کیدلو.سـنن الترمذي (٥ /٤٣٧)

د أصحاب الأُخدود د ظلم څخه ډکه دا سې قصه ده چې د ا سلام په تاریخ کې تل لو ستل کیږي او مسلمانان یې په خپل سپیڅلي کتاب قرآن کریم کې لولي او د أ صحاب الأُخدود د ظلم یادونه کوي او د الله تعالی په لاره کې د صبر او عزیمت او د توحید په دین د غیرت درس مسلمانانو ته ورکوي.

**د أصحاب الأُخدود په واقعه کې عبرتونه او درسونه:**

د أصحاب الأُخدود په واقعه کې بې شمیره عبرتونه او درسونه پراته دي چې ځینې په لاندې ډول دي:

**لومړی عبرت:** د حق د لارې لاروي په وژلو او عذابولو نه مري او نه ناکامیږي، بلکې په هر حالت کې دوی ژوندي او کامیاب دي.

د بشریت په تاریخ کې ډیرو ظالمانو مسلمانانو ته ضررونه رسولي دي او هغوي په ډول ډول ازمیښتونو کې اچولي دي چې په نتیجه کې ظالمان او کافران مري او له منځه ځي او د آخرت په عذابونو مبتلا کیږي او لکه د أصحاب الأُخدود په شان په اورونو کې سوزي او کامیابي د حق پرستانو او مؤمنانو ده . ډیره عجیبه خبره ده چې وژل کیږي مؤمنان، اور باندې سوزول کیږي هم مؤمنان او ددې لپاره چې د خپل حق دین څخه واوړي په اورونو کې سوزول کیږي هم مؤمنان خو په نتیجه کې همدوی کامیابه وي او نصرت

ددوی په برخه وي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:{وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِنْ لَا تَشْعُرُونَ}[البقرة:(١٥٤)

ترجمه:- او مه وایه تاسې هغه چاته چې ووژل شي په لاره د الله (جهاد) کې چې دوی مړه دي (دوی مړه نه دي) بلکه ژوندي دي ولیکن تاسو نه پوهیږئ(د دوی په ژوندانه).

او لکه چې د همدې واقعې په آخر کې الله تعالی فرمایلي دي:(إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ)[البروج:١١)

ترجمه:- بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) شته دوی ته جنتونه چې بهیږي له لاندې د (ونو او ماڼیو د) هغو (څلور قسمه) ویالې دا نجات دی مراد موندل لوی.الله تعالی کامیابي په جنګ او جګړه کې زیاتو تورو، ټانکونو او د مسلمانانو شهیدانو ته نه ده ویلی او نه الله تعالی کامیابي په جګړه کې برلاسی توب ته ویلی ده بلکې الله تعالی کامیابي او نصرت د دشمن په مقابل کې په دین باندې ثبات او استقامت ته ویلی ده ځکه چې په دین ثبات هغه موقف دی چې همفکره او هم عقیده زیږوي او په کومه داعیه چې مؤمن جنګیږي هغه د تل لپاره راتلونکو نسلونوته ژوندۍ پرېږدي چې دا هم په دنیا کې کامیابي ده او په آخرت کې کامیابي ده چې هغه د الله تعالی رضامندي ترلاسه کول دي. او کافران ولو که په جګړه کې برلاسه هم وي الله تعالی ورته ویلي دي دوی هلاک دي:(قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ* النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ)

ترجمه:- وژلی شـوي دي خاوندان د کندې د خندقونو د اور (په ځمکه کې) چې خاوند د بلېدلو وه (په ګوګړو او په ډېرو لرګیو او په سرېو سره).

نو حقیقي خساره د مجاهد او داعي په مرګ کې نه ده، بلکې حقیقي خساره داده چې ته ددین څخه واوړې او له حقیقت څخه په پندو واپس شې، د خپل مدعی څخه شاته شې او د حق څخه تنازل وکړې او په حق معامله وکړې . همدارازپه جګړه کې حقیقي کامیابي د جسدونو روغوالی او مالونو حفاظت او د مرکزونو ساتنه نه ده ، بلکې حقیقي کامیابي داده چې که چیرې ژوندی وې باید په ایمان ژوندی وې او که مړشې ، نو په ایمان باندې مړشې او دا باک نه کوي چې کفار دې په اور سیزي ، که په توره درڅخه سر وهي، که په اوبو کې د غرقوي او که د غر له سر څخه دې ښکته اچوي.

**دوهم عبرت:** په دې واقعه کې بل عبرت دا پروت دی چې ځینې وخت الله تعالی په ماشوم کې دومره لوی برکت واچوي چې د زیاتو نسلونو او خلکو د هدایت او ایمان سبب شي. که چیرې مونږ د هغه (غلام) هلک چې ځوانۍ ته نه دی ر سیدلی قربانۍ ته متوجه شـو، نو وینو چې د هغه په ایمان ثبات او اسـقامت دومره اثر ګزار ؤ چې خپله یې ځان د ایمان قرباني کړ، خو د لوی امت دایمان راوړلو سبب شـو ، چې تر نن پورې دا اثر په قرآن کریم کې لوستل کیږي او تکراریږي ترڅو مونږ ورڅخه درس او عبرت واخلو او پوهه شو چې ددین په لار کې د خلکو ډیروالي ته اعتبار نشته بلکې کلکې او مضبوطې عقیدې ته اعتبار دی.

**دریم عبرت:** داصحاب الأُخدود په واقعه کې د بچو د تربیت اهمیت او ارزښت پروت دی. د اصحاب الاخدود په واقعه کې یو ځوان هلک ؤ چې په رحمن ذات یې ایمان درلود، او د سرکشۍ سره مخامخ شو،خو د حق په ابلاغ باندې مصر او کلک پاتې شو.

د سالم تربیت له برکته هغه ځوانکي هلک خپله یې د ښمن ته د ځان د وژلو چل ور و ښودلو ، خو په خپل مرګ سره یې عظیم امت ته دتوحید د عقیدې دعوت ورکړ او ددعوت په لار کې له میدان څخه ونه تښتیدلو او نه له ظالم پاچا څخه پټ شو، بلکې دمرګ له ځایه څو ځلې پیاده په ډیره میړانه او شجاعت سره د ظالم پاچا مخې ته ورغی.

**څلورم عبرت:** د خلکو عقیده په الله تعالی جوړول. دأ صحابُ الأُخدود په واقعه کې بل عبرت دادی کله به چې هغه ځوان هلک د الله تعالی له خوا د ورکړل شوي کرامت په مټ سره د مریضانو علاج کولو او مورزادي ړندو او د برص مرض معالجه به یې کوله ، نو کله

به چې ور څخه خلکو شــفاء وغوښــتله ، نو هغه به ورته په دغه فرصــت کې دتوحید عقیدې دعوت وروکولو او د هغه عقیده به یې سموله او ورته به یې ویل:(أنا لا أشفي أحدا، إنما یشفي الله تعالی) زه شفاء ورکوونکی نه یم، بلکې شفاء ورکوونکی ذات الله تعالی دی. ترڅو خلک د خیر او شر مالک وپیژني او په عالم اســبابو باندې زیاته تکیا ونکړي او په خلکو کې چې د هغه وخت پاچا ځان رب ګڼلو عقیده موجوده وه د خلکو هغه عقیده یې په الله تعالی جوړوله او دایې خلکو ته تلقین کوله چې رب هغه څوک وي چې شــفاء ورکوي ، نو څوک چې شفاء چاته نشي ورکولای ، هغه رب کیدای نشي.

**پنځم عبرت:** ټول کافران یو ملت دی. دأصحابُ الأُخدود په واقعه کې بل دا عبرت پروت دی،چې ټول کافران یو ملت دی.

هر کافر چې په هره زمانه کې د مســلمانان سره مخ شــوی دی ، د مســلمان د تعذیبولو او وژلو هڅه یې کړې ده. که مونږ دابراهیم علیه السلام واقعې ته متوجه شو، نو نمرود او نورو ټولو کافرانو وویل: (قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ)[الأنبیاء: (٦٨)

ترجمه:- وویل ( نمرودیانو) و سوځوئ تاسې دغه (ابراهیم) او مرسته وکړئ تاسې د معبودانو خپلو کې که چېرې یئ تاسې کوونکي (د دې مرستې خپلو بوتانو سره).

که چیرې مونږ د مو سی علیه السلام او فرعون واقعې ته متوجه شو کله چې د فرعون ډله مغلوبه شوه او ساحرانو ایمان راوړ، نو فرعون وویل:(قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَى)[طه: (٧١)

ترجمه:- وویل (فرعون ) چې ایمان راوړ تاســې په ده باندې پخوا له هغې چې اجازه درکړم زه تاســې ته بېشــکه دا موســی چې دی خامخا مشر د تاسې دی هغه چې ښوولی دی تاسې ته جادو .نو اوس به پرې کړم زه خامخا لاسونه د تاسې او پښې د تاسې تېر وبېر (یعني ښی لاس او کینه پښه یا کیڼ لاس او ښی پښه) او خامخا ځوړند به کړم هرومر تاسې په تنو د خرماوو کې څو ستاسې د حال دلیدلو څخه ټولو ته پند او عبرت حاصل شي او خامخا معلوم به کړئ تاسې هرو مرو چې کوم یو له مونږه نه ډېر سخت دی له جهته د عذاب او ډېر پاتې کیدونکی دی (زه که موسې).

**شپږم عبرت:** اسلام داسې لمپه ده چې نه خاموشه کیږي او داسې لمر دی چې هیڅکله نه ډوبیږي.

که چیرې کفار دا فکر کوي چې د حق د لارې دداعیانو په وژلو سره به اسلام خاموشه شي او یا د ځمکې له سر محوه شي ، نو دا کامل احمق توب دی ، بلکې د اشخاصو او داعیانو په وژلو او سوزولو باندې د اسلام لمپه نه مړه کیږي.که چیرې څوک دا فکر کوي چې په زور سره او په ډارولو او د هغوی د کورونو په ورانولو سره به مسلمانان له نړۍ محوه کړي او اسلام به له منځه لاړشي دا یو جاهلانه تصور او فکر دی. بلکې هر څومره چې مسلمانانو ته تکلیف ور سیږي او یا ووژل شي، په هماغه اندازه د اسلام شمع تازه کیږي او د ځمکې څخه ورکیدل او له منځه تلل د کفارو او کفري نړۍ په برخه ده.

**اووم عبرت:** په هر سخت حالت کې په الله تعالی توکل او په هغه پوره تکیه کول په کار دي. کله چې د ظالم پاچا کسانو هغه ځوان هلک د غر سره ته بوتللو ترڅو له غر یې ښــکته راواچوي ، نو هغه هلک په الله تعالی کلکه بروســه او توکل درلودلو او الله تعالی ته یې عرض وکړچې( اللهم اکفنیهم بما شئت) ای الله! ماته ددوی څخه نجات راکړه په هره لاره چې وي .هغه په دې خبره کلک باور درلود چې الله هرڅه د الله تعالی په اختیار کې دي او د هغه له اختیار څخه پرته هیڅ کار نشي- کیدای. همغه وو چې په هغو ظالمانو غر قوي زلزلې ولړزولو او هغوی هلاک شــول. نو مونږ ته هم د هغه هلک په څیر په الله تعالی مضبوط توکل او بروســه په کار ده او باید په سختیو کې له هغه څخه مرسته وغواړو.

**اتم عبرت:** په تیرو وختونو کې هم مؤمنان او امتونه هم ازمایل کیدل او هغوی به د الله تعالی په ازمیښــتونو صــبر کولو. پر مؤمنانو د ازمیښتونو راتلل او ددښمنانو له لورې په سختو عذابونو مبتلا کیدل، په حقیقت کې د الله تعالی له لورې دمؤمنانو امتحان اخیستل

دي او په كار ده چې مؤمن د ازميښـــت پروخت په خپله داعيه كلک او ثابت ودريږي. الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنْكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ[محمد: (٣١)

ترجمه:- خامخا او هرو مرو مو آزمويو تاسې (په جهاد او نورو تكاليفو سره) تر هغه پورې چې معلوم او ظاهر كړو مونږ جنګ كوونكي له تاسې څخه او صبر كوونكي (په جهاد او په نورو احكامو او تكاليفو په اسلام كې).

په ازميښتونو سره الله جل جلاله ريښتيني مسلمان له درواغجن څخه بيلوي او اهل ايمان د اهل كفر او اهل نفاق څخه جدا كوي.

(لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىَ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعاً فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ أُوْلَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ)الأنفال:(٣٧)

ترجمه:- لپاره د دې چې بېل كړي الله خبيث (ناپاک كافر) له طيب (پاک مؤمن) څخه او بيا كېږدي خبيث (ناپاک سره لاندې باندې) ځنيې د ده په ځينو نورو باندې نو را جمع به كړي دا (خبيثان ) ټول نو وبه يې غور ځوي په دوزخ كې دغه (خبيثان يا مال لګوونكي) همدوی زيانكاران دي.

په حقيقت كې دالله تعالى ازميښت د كاميابۍ او نصرت لومړنۍ پوړۍ ده او آخري پوړۍ يې جنت دی. الله جل جلاله فرمايلي دي:

(أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ)البقرة: (٢١٤)

ترجمه:- آيا ګمان كوئ تاسې( ای مؤمنانو!) چې ننه به وځئ تاسو جنت ته حال دا چې راغلي به نه وي په تاسې باندې په مثل(د سختيو) د هغو كسانو چې تېر شوي دي پخوا له تاسې نه چې رسيدلې وه دوی ته سختي(لكه فقر) او رنځ او ګرځول شوي وو دوی (په سختيو سره) تر هغه پورې چې ويل به هم رسول او هم هغو كسانو چې ايمان يې راوړی وو سره له ده چې كله به وي نصرت د الله؟ خبردار شئ ! واورئ! چې بېشكه نصرت د الله نږدې دی (مؤمنانو ته).

**نهم عبرت:** په اصحابُ الأُخْدود واقعه كې دا عبرت پروت دی او ډير صريحه دی چې كفار او بې دينان له مسلمانانو او مؤمنانو سره ددې وجې نه دښمني لري چې دوی په الله تعالى ايمان راوړی دی ، بس دا د مسلمانانو ګناه ده او بله هيڅ ګناه نلري. الله تعالى د همدې واقعې د بيانولو پر وخت فرمايي:(مَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ)[ البروج: (٧)

يعنې ددوی بله ګناه او جرم نه درلود سوا ددې خبرې نه چې دوی په الله تعالى چې ستايل شوی او قادر ذات ايمان راوړی ؤ.

تفسير ابن كثير / دار الفكر (٤ /٥٩٨)

همدارنګه د افغانستان او غزې مسلمانان بل جرم او ګناه نلري ، خو په الله تعالى ايمان لري او دكفارو دود او دستور نه مني ځكه چې دا دايمان سره متضاد كار دی.

**لسم عبرت:** په اصحابُ الأُخْدود واقعه كې ددين پر دعوت باندې زيات اصرار كول مونږ ته را ښايي.

هغه ځوان هلک دوه ځلې د هلاكت څخه الله تعالى وســاتلو او په هر ځل به هغه پاچا ته چې كافر ؤ هغه ته به ورتللو ترڅو دين ته يې دعوت كړي او ايمان راوړي ، خو پرځای ددې چې د هغه هلک خبرو ته غوږ ونيسيــ ، نو د هغه هلک د مرګ تاپيا به يې نيوله ، نه به هغه هلک تښتيدلو او نه به پټيدلو، بلكې سيده به د پاچا خواته ددين ددعوت په خاطر ورتللو.

په دې كې مونږ ته دا درس پروت دی چې كه چيرې مسلمان د هر ډومره تكليف سره مخ كيږي بايد بې دينان خپل دين ته دعوت كړي او په دې لاره كې هر مصيبت او غم وزغمي .

**اللهم توفنا مسلمين وألحقنا بالصالحين.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**